
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د اپریل درېیمه | دویم کال| ۳۵۷مه گڼه

# کتاب

۴ مخ

## خبرې مه کوئ عمل وکړئ!




په ټوله کې دغه کتاب درته وایي، نور د بهانو له جزیرې رابهر شئ! نور بهانې لټول بس دي او نور په دې جزیره کې ورځې مه تېروئ. د هغه څه لپاره لاس په کار شی، چې زړه مو غواړي. عمل کول تر هغه څه اسانه دي، چې کوی یې نه؛ خو سخت ترې ځورېږی.

# زلمی خلیلزاد:
# ښه به وي چې سوله تر ټاکنو مخکې وشي




۳

## پر جگړه ټینگار به حکومت نور هم منزوي کړي

۲ مخ

## د افغان جگړې د سوله‌ییز حل ممکنه سناریوگانې

۲ مخ

## افغان سوله؛ د افغان حکومت، امریکا او سیمې د همغږۍ اړتیا

۳ مخ

## په لوگر کې د ۵۵ ښوونځیو د ودانیو د جوړولو کار پیل شوی دی



د لوگر په مرکز او ولسوالیو کې پرون، د ۵۵ ښوونځیو د ودانیو د جوړولو کار پیل شوی دی.
د لوگر د پوهنې ریاست ویاند شاه‌پور عرب ازادي راډیو ته ویلي، چې د نویو ښوونځیو د ودانیو پر جوړولو سربېره، په ۲۶ ښوونځیو کې د ښځو د اوبو ځاگانې هم کېندل کېږي.
د نوموړي په خبره، د دې پروژې لگښت ۳۲۸ میلیونه افغانۍ دی، چې د کلیوالي پیوستون د پروگرام له خوا ورکول کېږي.
په یاد ولایت کې دغه اقدام په داسې حال کې کېږي، چې د دغه ولایت له ۳۰۷ ښوونځیو څخه ۱۱۴یې ودانۍ نه لري. د دغه ولایت د چارواکو په خبره، د دغو ودانیو په جوړولو سره به د یادو ښوونځیو د زده کوونکو ستونزې راکمې او د زده کړو لپاره به یو مناسب چاپېریال ورته رامنځ ته شي.

## ملگري ملتونه: ۷،٦ میلیونه افغانان غذایي مصونیت نه لري

ملگرو ملتونو د یو رپوټ په خپرولو سره ویلي، چې د اقلیم بدلون، شخړې او اقتصادي بې ثباتي د دې سبب شوې، چې تېر کال د نړۍ په گوټ گوټ کې ۱۱۳ میلیونه کسان له سختې غذایي بې ثباتۍ سره مخ شي.
د «غذایي موادو د کړکېچ نړیوال رپوټ» چې هر کال د ملگرو ملتونو د غذایي موادو او کرنې اداري له خوا خپرېږي، په خپل تازه رپوټ کې لیکلي چې ۷،٦ میلیونه کسان په افغانستان کې د جگړو او ناامنیو له کبله غذایي مصونیت نه لري.
دغه سازمان ویلي چې ۵۳ هېوادونه د غذایي موادو له کمبود سره مخامخ دي، چې یمن بېړنیو مرستو ته د اړو هېوادونو د لېست په سر کې دی او ورپسې کانگو او بیا افغانستان دي.
په رپوټ کې راغلي چې د افغانستان ۳۹ سلنه وگړي په فقر کې ژوند کوي او د دغه هېواد شاوخوا لس میلیونه خلک روغتیایي اساسي خدماتو ته یا لاسرسی نه لري او یا یې هم لاسرسی محدود دی.
په یمن کې ۱۷ میلیونه او د کانگو ډیموکراتیک جمهوریت کې شاوخوا ۷،۷ میلیونه وگړي غذایي مصونیت نه لري او دغه هېوادونه د ملگرو ملتونو د بېړنیو مرستو په سر کې دي.
د دغه رپوټ پر بنسټ، پر جگړو سربېره په ځینو هېوادونو کې وچکالي او اقلیمي بدلونونه د غذایي موادو د تولید د کمښت سبب شوي او د غذایي موادو د کمبود کړکېچ یې رامنځ ته کړی دی.

## بهرنیو ځواکونو د کندهار - اروزگان پر لویه لاره په هوایي برید کې ۱۵ مسافر وژلي دي




۲ مخ

## شورای امنیت: رئیس‌جمهور برنامه امنیتی برای سال ۱۳۹۸ را تصویب کرد



شورای امنیت ملی می‌گوید که برنامه امنیتی برای سال روان هجری خورشیدی، دیروز (سه‌شنبه ۱۳ حمل) از سوی رئیس‌جمهور اشرف غنی تصویب شد.
برنامه امنیتی برای سال ۱۳۹۸ هجری خورشیدی که به نام «برنامه امنیتی خالد» یاد می‌شود، دیروز در یک جلسه ارشد امنیتی به بحث گرفته شد و سپس از سوی رئیس‌جمهور تصویب شد.
دفتر شورای امنیت ملی در یک خبرنامه می گوید که هدف از «برنامه امنیتی خالد»، بهبود وضعیت امنیتی در سراسر کشور، سرکوب هراس‌افگنان، شناسایی بخش‌های زیر تهدید، تأمین امنیت انتخابات، جلوگیری از تلفات غیرنظامیان در جنگ و بسیج درست نیروهای امنیتی می‌باشد. برنامه امنیتی برای سال ۱۳۹۸ هجری خورشیدی در حالی به تصویب می‌رسد که پیش از این وزارت دفاع ملی گفته است که طالبان نیز امسال آماده گی‌های کامل شان را برای جنگ گرفته‌اند.
اسدالله خالد، سرپرست وزارت دفاع ملی گفته است که امسال طالبان تلاش دارند، تا با تمام قوت شان در برابر نیروهای امنیتی و دفاعی کشور بجنگند.
در این جلسه که داکتر حمدالله محب مشاور امنیت ملی کشور و رهبری سکتور امنیتی حضور داشتند، روی جزئیات پلان امنیتی سال ۱۳۹۸ بحث های مفصل صورت گرفت.
این در حال است که قرار است دور ششم گفت‌وگوهای صلح میان نماینده‌های امریکا و طالبان نیز در ماه جاری در قطر برگذار شود.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning With Shigal

Admission Open

+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

## دریـغ

### پر جګړه ټینګار به حکومت نور هم منزوي کړي

پرون د ولسمشر غني په مشرۍ امنیتي غونډې د روان ۱۳۹۸ لمریز کال لپاره امنیتي پلان تصویب کړی، چې پکې د خالد په نوم پراخ عملیات هم شامل دي.

له ارګه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، په دغه غونډه کې چې د امنیتي سکټور رهبرۍ هم پکې حضور درلود، د دغه پلان پر جزیاتو مفصل بحثونه شوي دي. سرچینه کاږي چې دا پلان په ټول هېواد په ځانګړې توګه د ښارونو او لویو لارو د امنیتي وضعیت د ښه والي، د دښمن د ځپلو، له ګواښ سره مخ سیمو د پېژندلو، د ټاکنو د امنیت، د ملکي تلفاتو د مخنیوي او د ځواکونو د سم سمبالښت په موخه تطبیق او عملي کېږي.

د افغان حکومت له دریځه ښکاري چې لا هم تر سولې ورته جګړه لومړیتوب لري. له همدې امله پر جګړه ټینګار کوي. د دغو عملیاتو تر اعلان وړاندې، د دفاع سرپرست وزیر طالبانو ته سخت ګواښونه کړي وو او د کورنیو چارو سرپرست بیا پولیسو ته امر کړی و، چې طالبان ووژني او رحم پرې ونه کړي. له دغه اعلان وړاندې حکومت شپنیو عملیاتو او بریدونو ته زور ورکړی، چې طالبانو ته د زیان تر څنګ یې ملکي وګړو ته هم پراخه مرګ ژوبله اړولې ده.

حکومت له دې امله پر جګړه ټینګار نه کوي، چې غښتلی دی، یا طالبان ماتولی شي او یا هم تر پخوا ښه جګړه کولی شي. ښکاره ده چې حکومت تر پخوا کمزوری دی، ښایي په راتلونکو جګړو کې د پراخې مرګ ژوبلې تر څنګ نورې سیمې هم له لاسه ورکړي. هېڅ داسې څه نشته چې پر اساس دې یې وویل شي، چې حکومت پیاوړی شوی او طالبان ماتولی یا کمزوري کولی شي. دا چې له دې ښکاره حقیقت سره سره حکومت پر جګړه ټینګار کوي، لامل یې د سولې روانې خبرې دي. د سولې په دغو خبرو کې حکومت نشته او خبرو ته د ورګډېدو لپاره یې شوې هڅې هم بې پایلې دي. له همدې امله یې ان له امریکا سره اړیکې خرابې شوې دي. یوازې د حمدالله محب خبرې نه دي، بلکې د ولسمشر او نورو چارواکو په خبرو کې هم له امریکا ګیلې ښکاري. دوی ونه شو کولی چې د سولې روانې خبرې ودروي او پر دې هم بریالي نه شول، چې حکومت د یو اړخ په توګه پکې ور ګډ کړي، نو ځکه فکر کوي چې یوازې همدا یوه لاره شته چې پر جګړه ټینګار وشي.

حکومتي چارواکي د تل په څېر یو ځل بیا ناسمه محاسبه کوي. دوی د عملیاتو په اعلانولو سره نه د سولې د روانې پروسې پر وړاندې خنډ جوړولی شي او نه هم دا هغه لاره ده چې دوی پرې له طالبانو سره خبرو ته کېښېنولی شي.

حکومت دې د سولې په خبرو کې د ګډون او پر امریکا د فشار لپاره نورې لارې وګوري. پر ناکامو او هغو لارو تګ چې پکې د افغانانو لا زیاتې وینې تویېږي، نه د حکومت په ګټه دي او نه به هم د افغانستان خلک دې خونړۍ لوبې ته نوره اجازه ورکړي.

# د افغان جګړې د سوله‌ییز حل ممکنه سناریوګانې

لیکنه: اجمل جلال
دویمه برخه:

**لومړی – په دولت کې سمون او شمو لیت**

په دغو سناریو کې د موجوده دولت پر سمون او پراخوالي توافق کېږي. دولت د وسله والو مخالفینو غوښتنې مني او د هغوی وسلواله مبارزه مشروع بولي. دولت او وسله وال مخالفین دواړه د قوانینو په تعدیل توافق کوي او د دولت په بنسټونو کې اړینې سمونې راولي. پراخ دولت باید د سولې د دوام لپاره لازم تضمینات برابر کړي. د واک د وېش له لارې باید د صلاحیتونو ترمنځ توازن رامنځ ته شي، څو یو طرف د سولې د پربکړو د ماتولو هڅه ونه شي کړای. پراخ دولت باید د ټولو قومونو، ژبو او مذهبونو د حقوقو تضمین وکړي. د سولې د دوام لپاره دا هم مهمه ده چې خلک، دولت او وسله وال مخالفین یو ځای پر عمومي عفوه هم توافق وکړي.

پراخ دولت باید د سولې د مذاکراتو برخه او پایله وي. دولت کېدای شي داسې فکر وکړي، چې د سولې له رامنځ ته کېدو څخه وروسته به د یوه پراخ دولت د جوړولو کار پیلوي، د طالبانو غوښتنې به مني او قوانین به تعدیلوي. پر دې خبره ممکنه ټینګار به د مذاکراتو پر مېز د منلو وړ نه وي او د مذاکراتو د ناکامۍ سبب به شي، ځکه چې دغه حالت ته به طالبان د تسلیمۍ په سترګه وګوري.

**دویم–لنډمهاله او یا سرپرست حکومت**

دویمه سناریو دا ده چې دواړه غاړې د موجود سیاسي چوکاټ او افرادو په ساتلو نه سره جوړېږي او د سولې د تامین لپاره پر یوه بل حکومت توافق کوي. په داسې حال کې به نوی حکومت لنډمهاله وي او د سرپرست رول به لوبوي، د سولې توافق به عملي کوي، قوانین به تعدیلوي، امنیت به تامینوي او د یوه اوږدمهاله او د اساسي قانون پر اساس انتخابي نظام ته به لار هواروي.

لنډمهاله او یا سرپرست حکومت کېدای شي د موجود حکومت، طالبانو او له بې طرفه ولسي افرادو څخه تشکیل شي. یا هم کېدای شي چې دواړې غاړې پر بې طرفه افرادو توافق وکړي. دلته دا مهمه ده چې د لنډمهاله حکومت رامنځ ته کېدل به یوازې او یوازې د موجوده نظام د سرپرستۍ لپاره د افرادو تغیر وي، نه د موسساتو. لنډمهاله حکومت به موجوده ملي پوځ، پولیس او استخبارات د هېواد د امنیت لپاره کاروي. د موجوده نظام د موسساتو سمونه او اصلاحات راوستل به د سولې د توافق مطابق تر سره کېږي.

**دریم – غیر متمرکز دولت**

دریمه سناریو د غیر متمرکز دولت رامنځ ته کول دي. طالبان، دولت او عام ولس پر دې توافق کوي چې نظام غیر متمرکز شي او ولایاتو ته مشخص صلاحیتونه ورکړل شي. غیر متمرکز نظام به د افغانستان د کنټرول صلاحیتونه د موجوده دولت د افرادو، د همدغه دولت په چوکاټ کې طالبانو او د ولس نورو ذیدخله ډلو ترمنځ وېشي. د دغو سناریو تطبیق مغلق او له ستونزو ډک دی، ځکه چې عملي کول یې اوږده کار او جزیاتو ته د لازمي او زیاتې پاملرنې غوښتنه کوي.

د افغانستان روان وضعیت ته په کتو، داسې یو حل ځینې ستونزې له ځان سره لري. د قوي اقتصاد، قوي پوځ او منظمو استخباراتو نشتون او د افغانستان قومي وېش به د مختلفو حوزو په تنظیم کې پاتې راشي او نویو اختلافاتو ته به لمن ووهي.

**څلورم – نوی پیل**

څلورمه سناریو دا ده چې موجود نظام کاملاً خپل مشروعیت له لاسه ورکړي او د نوي پیل وخت وي. په داسې حالت کې وسله وال طالبان او د ټولنې اکثریت خلک د موجود نظام، قوانینو، دولتي موسساتو او د قدرت د وېش پوره تغیر غواړي.

داسې یو تغیر به په دوو دلایلو دولت، طالبانو او عام ولس ته د قبول وړ نه وي. اول دا چې موجود نظام خپل مشروعیت د اکثریت ولس په مقابل کې له لاسه نه دی ورکړی. د نظام موسسات د ولس سرمایه ده. پوځ، پولیس، استخبارات، تعلیمي او تحصیلي موسسات او نور بنسټونه یوازې اصلاح کېدای شي، له منځه نه شي وړل کېدای. دویم دلیل یې دا دی چې د نوي پیل ناکامه تاریخي تجربه افغانانو یوځل په سترګو لیدلې ده. د نجیب د حکومت ړنګېدل، د اردو، پولیسو او ټولو دولتي موسساتو له منځه تلل، د کورنۍ جګړې او دوامداري بدبختۍ لامل شول. په همدې دلیل، نوی پیل د روان کړکېچ د پای ته رسولو لپاره د حل لار نه ده.

**څه باید وساتل شي؟**

د سیاسي چوکاټ لپاره له پورتنیو سناریوګانو او یا بلې هرې سناریو څخه، چې هره یوه وټاکل شي، د ځینو مهمو مسایلو د ساتنې واضح تضمینات باید وړاندې کړي.

په مجموعي شکل نظام له منځه وړل او یا په فردي توګه د نظام د مهمو بنسټونو او لاس ته راوړنو له منځه وړل به هېڅکله د دوامداري سولې باعث نه شي. په مشخص ډول پوځ، پولیس، استخبارات، تعلیمي او تحصیلي موسسات، د بیان ازادي، ټاکنیز سیستم، د ښځو حقوق او عام المنفعه ټولې پروژې باید د سولې په بهانه تر تعرض لاندې را نه شي؛ ځکه دا ډول مسایل د سولې د دوام تضمین کوي، چې په نشتون کې به یې نوي اختلافات او حتی جګړې رامنځ ته شي.

**پایله**

سوله باید د جګړې د عواملو په له منځه وړلو تمرکز وکړي. که سوله یوازې د قدرت د وېش لپاره د یوې پروسې شکل غوره کړي او د جګړې عواملو ته پام و نه کړي، لنډمهاله به وي او یا کېدای شي اصلاً رامنځ ته نه شي. ځکه چې افغانستان کې پر طالبانو سربېره نورې ډلې، لکه داعش، هم فعالیت لري. که د جګړې مشروعیت له منځه یو نه وړل شي، لرې نه ده چې طالب جنګیالي به د داعش په لیکو کې تنظیم شي او جګړه به ادامه پیدا کړي.

د سولې د توافق د تطبیق لپاره پر یوه سیاسي چوکاټ باندې توافق کول، د سولې د دوام لپاره اړین ګام دی. افغان جګړه ګټونکی نه لري او د بن‌بست په حالت کې ده. په همدې دلیل د جګړې ټولې غاړې د سولې مذاکراتو ته ناست دي. په داسې حالت کې ټولې غاړې باید پر دې پوه شي چې د سولې په پایله کې د مقابل لوري د تسلیمېدو هیله باید ونه لري. که داسې حالت رامنځ ته شو، د سولې مذاکرات به ناکام شي.

د سولې د توافق د تضمین او د کورنیو جګړو، ګډوډیو او بې نظمیو د مخنیوي لپاره، د موجوده نظامي، استخباراتي، امنیتي، تعلیمي او تحصیلي موسساتو او په مجموع کې د ټول نظام ساتل اړین دي. طالبان، ولس او دولت باید دې مسئلې ته جدي پام وکړي. د شته موسساتو سمول، اصلاحات راوستل او حتی په صلاحیتونو او کارونو کې یې لازم تغیر راوستل، د سولې د مذاکراتو د توافق پر اساس ممکن دي.

**پای**

## خلیلزاد: امریکا د افغان سولې پروسه نه انحصاروي



د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، چې په افغانستان کې به د امریکا رول مخ په کمېدو وي او د یوې تلپاتې سولې په موخه باید خپله افغانان زیات مسوولیت واخلي.

هغه له ازادي راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، چې امریکا نه غواړي د افغانستان د سولې پروسه انحصار کړي، بلکې د روسیې په ګډون ټول هېوادونه کولای شي چې په دې برخه کې مرسته وکړي او دوی یې هرکلی کوي.

هغه زیاته کړې: «په افغانستان کې به د امریکا رول په کمېدو وي او د دې لپاره چې دلته یوه تلپاتې سوله کار وکړي، خپله افغانان باید ډېر مسوولیت واخلي او کومې پرېکړې چې کېږي، ټول شموله وي، څو وکولای شي چې په افغانستان کې ومنل شي. همدا شان سیمه هم د افغانستان په سوله کې رول لري، ځکه د افغانستان د جګړې یوه برخه نیابتي ده».

نوموړي کابل ته په خپل سفر کې له ولسمشر، اجرایه رییس او ځینو نورو افغان چارواکو او سیاسیونو سره هم د سولې په تړاو خبرې کړې دي.

بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د خلیلزاد د سفرونو د تازه لړۍ په اړه په خپله خبرپاڼه کې ویلي، چې نوموړی به په خپلو دغو سفرونو کې چې د اپرېل د میاشتې تر لسمې نېټې به دوام پیدا کړي برېټانیا، بلجیم، افغانستان، پاکستان، ازبکستان اردن او قطر ته ولاړ شي.

خلیلزاد له ازادي راډیو سره په دې ځانګړې مرکه کې دا هم ویلي، چې دی په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو د وتلو د موقع هڅه نه کوي، بلکې د داسې سولې د راوستو هلې ځلې کوي، چې په ترڅ کې یې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو د حضور اړتیا کمه کړي.

نوموړي ویلي، دی باور نه لري چې په افغانستان کې به له سولې وروسته ترهګري ختمه شي، ځکه د هغه په خبره، د اسلامي دولت یا داعش او القاعده هغه ډلې دي چې په وړاندې به یې جګړه دوام ولري.

هغه زیاته کړې: «زه نه وایم چې د سولې په راتګ سره به په افغانستان کې نور هېڅ ستونزې پاتې نه شي، تروریزم خو نه ختمېږي. که له طالب سره جګړه کمه شي، نو داعش لا هم شته او که القاعده وي، نو جګړه یې په وړاندې دوام پیدا کوي».

## داوودزی: ښایي د امریکایي او طالب استازو ترمنځ روانې خبرې نورو پړاوونو ته وغځېږي



د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس ویلي، ښایي د متحده ایالتونو او طالب استازو ترمنځ د سولې خبرې نورو پړاوونو ته هم وغځېږي.

نوموړي تېره ورځ د سولې په خبرو کې د مدني ټولنو او رسنیو د ونډې په غونډه کې اندېښنه څرګنده کړې او ویلي یې دي چې د دې پروسې اوږدېدو پوښتنې پیدا کړې دي.

نوموړي زیاته کړې: «پنځه پړاوه مذاکرات وشول، ښایي شپږم او اووم یې هم وشي، زه د یو افغان په توګه دا وایم چې باید ژر تر ژره دې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې وشي. دا نور مذاکرات ښه دي په هره کچه چې وي، خو دا ټولې خبرې باید اصلي خبرو سره مرسته وکړي، خو دا چې تر کومې کچې د دغو خبرو په اړه معلومات له خلکو سره شریک شوي، په دې اړه موږ هم پوښتنه لرو او تاسو هم».

افغان چارواکي په داسې حال کې د سولې خبرو د اوږدېدو موضوع مطرح کوي، چې مخکې له دې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي وو، د دې چانس شته چې طالبان او د افغانستان حکومت تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې د سولې یوې موافقې ته ونه رسېږي.

خو نوموړي ورمه ورځ له ازادي راډیو سره په ځانګړې مرکه کې ویلي، تمه لري چې د رایو صندقونو ته د افغانانو له ورتګ وړاندې، افغان حکومت او طالبان د سولې یوې هوکړې ته سره ورسېږي.

دا په داسې حال کې ده چې په قطر کې د امریکایي پلاوي او طالب استازو ترمنځ شاوخوا شل ورځې وړاندې د سولې د خبرو پنځم پړاو پای ته ورسېد.

خلیلزاد په خپله ټوېټرپاڼه کې په دې اړه لیکلي وو، چې د ځینو مسایلو په اړه له طالبانو سره ګټور بحثونه شوي، خو ځینې نورې خبرې به د خبرو په بل پړاو کې مطرح شي.

په ورته وخت کې ویل کېږي چې د قطر پلازمېنه دوحه به په روانه میلادي میاشت کې د افغان سولې په اړه، د څو مهمو ناستو کوربه وي چې لومړۍ غونډه به یې د ښاغلي خلیلزاد او طالب استازو ترمنځ ترسره شي.

همدارنګه ټاکل شوې چې د طالب استازو او امریکایي پلاوي ترمنځ له رسمي خبرو وروسته به طالبان له افغان سیاستوالو سره د خبرو دویم پړاو پیل کړي، چې افغان حکومت ته هم په دغه ناسته کې د ګډون بلنه ورکړل شوې ده.

# افغان سوله؛ د افغان حکومت، امریکا او سیمې د همغږۍ اړتیا

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

څو ورځې وړاندې امریکایي چارواکو د روسیې، چین او اروپایي ټولنې له استازو سره د افغان سولې په تړاو دوه‌ورځنۍ خبرې اترې درلودې. د دغو خبرو په اړه زلمي خلیلزاد پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي، چې «موږ د افغانستان د خپلواکۍ درناوی کوو، د افغانانو لپاره سوله غواړو او د یوه داسې افغانستان غوښتونکي یو، چې بیا دغه هېواد هېڅکله زموږ لپاره د ګواښ سرچینه نه وي».

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم د دغو خبرو په تړاو په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت چارواکو د (۲۰۱۹ ز کال د مارچ ۲۱ او ۲۲مه) په واشنګټن کې د افغانستان د سولې، نېکمرغۍ او امنیت په برخو کې د چین، روسیې او اروپایي ټولنې له چارواکو سره خبرې وکړې. په بیانیه کې ویل شوي، چې «دوی د افغانستان خپلواکۍ، استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی لري او دغه هېواد به خپلې سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرېکړې په خپله کوي».

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف له دغو دوو ورځنیو خبرو وروسته ویلي، چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو او اوربند وروسته به بیا دغه هېواد ته جګړه را ونه ګرځي.

د افغان سولې په پروسه کې د سیمې د هېوادونو ارزښت، د دغو هېوادونو ګټې او دا چې افغان سوله د امریکا، افغان حکومت او سیمې د هېوادونو همغږۍ ته څومره اړتیا لري، هغه موضوعات دي چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

افغان سوله او سیمه‌ییزې ګټې

د افغانستان موقعیت ته په کتو سره، د دغه هېواد سوله او ثبات د سیمې پر امنیت او ثبات اغېز لرونکی دی. له تېرو شاوخوا څلورو لسیزو راهیسې رواني جګړې هم وښوده، چې یو ناآرام افغانستان د سیمې د ثبات په ګټه نه دی؛ له همدې کبله په اوس‌مهال کې تقریباً د سیمې ټول هېوادونه په رسمي توګه د افغانستان سوله او ثبات په خپله ګټه بولي.

که څه هم د سیمې د هر هېواد ګټې په افغانستان کې بېلابېلې دي او تر ډېره د افغانستان په قضیه کې له همدې امله ننګونې هم زیاتې دي؛ خو بیا هم په ټوله کې له پورتنۍ خبرې سره، چې د افغانستان سوله او ثبات ده، په اوسمهال کې ټول موافق دي. د بېلګې په توګه، روسیه او چین دواړه غواړي په اوږدمهال او منځ‌مهال کې امریکایي سرتېري په افغانستان کې نه وي او له همدې امله د امریکا ـ طالبانو له خبرو هم ملاتړ کوي؛ خو له افغانستانه ژر د بهرنیو ځواکونو وتل بیا هم د خپلو ګټو لپاره ګواښ ګڼي. ځکه دا به په افغانستان کې د واک تشه رامنځته کړي او د دې وېره شته، چې هېواد به د ۹۰مې لسیزې په څېر بیا د بحران پر لور بوځي.

په بل اړخ کې پاکستان د افغانستان او هند ترمنځ له اوسنیو ګرمو اړیکو خوښ نه دی؛ پاکستان غواړي چې دغه ګرمې اړیکې همداسې ګرمې پاتې نه شي او په افغانستان کې د هند اغېز راکم شي. له همدې کبله پاکستان په افغانستان کې د یوه داسې نظام هیله لري، چې دوی پرې نفوذ ولري.

په سیمه کې ایران هم د روسیې او چین په څېر په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له حضوره اندېښنې لري. دغه‌راز همدا درې واړه هېوادونه له دې هم اندېښنه لري، چې شاید امریکا به د داعش تر شا لاس ولري. همدا لامل دی، چې د داعش د فعالیت له زیاتوالي سره دوی له طالبانو سره اړیکو غځولو ته اړ شول، څو له دې لارې پر امریکا فشار راوړي.

په افغان سوله کې د سیمې د همکارۍ ارزښت

که څه هم د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو رواني خبرې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې ورځ تر بلې هیله بښونکې کېږي؛ خو په ورته وخت کې بیا په دې پروسه کې د سیمې د هېوادونو رول هم له پامه نه شي غورځول کېدای. په افغانستان کې د روانې جګړې پېچلتیا او ښکېلو ډلو ته په کتو سره داسې ښکاري، چې په دغه هېواد کې د سولې او ثبات لپاره د سیمې د ځواکمنو هېوادونو همکاري پوره ارزښت لري او یو اړین ګام دی چې پورته کول یې د افغان سولې له پروسې سره مرسته کولای شي.

د افغان سولې په تړاو له طالبانو سره د امریکا د مخامخ خبرو پیل او له تېرو څو میاشتو راهیسې د زلمي خلیلزاد سفرونه ښیي، چې امریکا هم د افغان سولې په برخه کې د سیمه‌ییزو هېوادونو پر ارزښت قایله ده. دغه‌راز امریکا هڅه کوي، چې د افغان سولې په تړاو د سیمې د هېوادونو اندېښنې کمې کړي او په دې برخه کې یې ملاتړ ترلاسه کړي.

د دې ترڅنګ، د امریکا او طالبانو ترمنځ د روانو مخامخ خبرو اترو په تړاو هم انګېرنې دا دي، چې د دواړو لوریو ترمنځ که هوکړه کېدونکې وي، د سیمې ځینې ځواکمن هېوادونه به د دې هوکړې د تطبیق تضمین کوونکو په توګه ډګر ته رامخته کېږي. په دې تړاو، د چین، روسیې او اروپایي ټولنې له استازو سره د خلیلزاد له خبرو وروسته، د افغانستان لپاه د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف خبریالانو ته ویلي چې، طالبان هڅه کوي څو باوري شي، چې روسیه او ځینې نور هېوادونه د دوی او امریکا ترمنځ د احتمالي هوکړو تضمین کوونکي دي.

پر دې ټولو سربېره، د افغان سولې په تړاو په روانو خبرو کې افغان طالبان هم د تضمین کوونکي په توګه د سیمې هېوادونو ته اړتیا لري، څو نړیوالو ته د دوی له لوري هم د تضمین کوونکي رول ادا کړي.

پایله

په افغانستان کې د سولې لپاره تر ټولو ننګوونکې دا ده، چې څرنګه د افغان حکومت-امریکا-سیمه‌ییزوهېوادونواوطالبانو ګټې په یوه چوکاټ کې په نظر کې ونیول شي، څو دا پروسه بریالۍ شي. له همدې امله په دې تړاو د سیمې هېوادونو ته د زلمي خلیلزاد مسلسل سفرونه، په افغانستان کې له حکومتي او سیاسي چارواکو سره لیدنې او له طالبانو سره ناستې په همدې دلیل دي.

د افغان سولې په تړاو د روسیې، چین او اروپایي ټولنې له استازو سره د خلیلزاد وروستۍ خبرې اترې هم د امریکا ـ طالبانو د خبرو اترو د بریا لپاره مهم ګام و، دا هڅې د دواړو لورو ترمنځ د شته بې‌باوریو د ختمولو په تړاو او یوې نوې مرحلې ته د سولې د خبرو رسېدو په پار دي.

داسې برېښي چې د سیمې له هېوادونو سره په همغږۍ به په نږدې راتلونکي کې د امریکا او طالبانو ترمنځ په روانو خبرو کې له افغانستانه د بهرنیو سرتېرو د ایستلو، له سخت دریځو ډلو سره د طالبانو پرېکون او دا چې افغان خاوره به د امریکا او نړیوالو پرضد نه کارول کېږي، یوه هوکړه وشي؛ خو بین الافغاني خبرې (چې د طالبانو او افغان سیاسي ډلو ترمنځ نه وي، بلکې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ وي) او اوربند اعلانول به تر ټولو لویه ننګونه وي او ښایي وخت وغواړي.

په ټوله کې د افغان سولې په تړاو د طالبانو او افغان حکومت ستراتېژۍ ډېر توپیر لري، چې همدې توپیر د افغان سولې په تړاو اندېښنې زیاتې کړې دي. طالبان غواړي لومړۍ له امریکا سره د سرتېرو د ایستلو پر موضوع او دا چې افغان خاوره به د امریکا او نړیوالو پرضد نه کارول کېږي، خبرې پای ته ورسوي او یوه هوکړه وکړي. بین‌الافغاني خبرې د هېواد له ټولو سیاسي، جهادي او مدني ډلو سره غواړي؛ خو پرته له افغان حکومت څخه، دغه راز اوربند هم هغه جنجالي فکتور دی چې ښایي د بین الافغاني خبرو اترو تر هوکړې وروسته یې په اړه خبرې وشي.

په بل اړخ کې افغان حکومت بیا د امریکا او طالبانو ترمنځ له مخامخ خبرو ناخوښ دی او له همدې امله په وروستیو کې د کابل ـ واشنګټن ترمنځ په اړیکو کې یو ډول بې‌باوري را ټوکېدلې ده. د افغان سولې په تړاو که چېرې افغان حکومت ونه توانېږي، چې د سولې مشري ترلاسه کړي، ښایي ولسمشر غني د سولې له دې پروسې سره پوره پرېکون اعلان کړي، چې هغه وخت به یې پایلې د هېواد او ملت په خیر نه وي.

## زلمي خلیلزاد:

# ښه به وي چې سوله تر ټاکنو مخکې وشي



تر ولسمشریزو ټاکنو مخکې باید د سولې په برخه کې توافقات رامنځ ته شي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په خپله تازه مرکه کې ویلي، سوله او ټاکنې دواړه د افغانستان لپاره مهم دي، خو ښه به وي چې ټاکنې تر سولې او یا په دې برخه کې تر توافقاتو وروسته ترسره شي.

له میاشتو راهیسې د طالبانو او امریکایي حکومت ترمنځ د سولې مذاکرات روان دي او هڅه کېږي چې دواړه لوري یو لړ هوکړو ته سره ورسېږي. د افغان سولې لپاره ګومارل شوي امریکایي ډیپلومات زلمي خلیلزاد هڅې پیل کړې دي، چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره لار هواره کړي او تر څنګ یې په افغانستان کې روانه جګړه ودروي. خو د سولې تر څنګ، د ملي یووالي حکومت د مشروعیت له ګواښ او ټاکنې له بن‌بست سره مخ دي. زلمی خلیلزاد بیا وایي چې ټاکنې او سوله دواړه د افغانستان لپاره مهم دي، خو سولې ته باید تر ټاکنو ارزښت ورکړل شي.

خلیلزاد له ازادي رادیو سره په یوه مرکه کې ویلي، د سولې او ټاکنو لپاره موازي کار روان دی، خو تر دې وړاندې هم څو ځله ټاکنې ځنډېدلې دي، نو ځکه خو پکار ده، چې ټاکنې تر سولې او یا په دې برخه کې د ځینو هوکړو تر رامنځ ته کېدو وروسته ترسره شي. خلیلزاد ویلي: ((د ټاکنو او سولې لپاره دې په یوه وخت کې تیاری ونیول شي. زه د دې پلوی یم چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ تر ټاکنو مخکې یو توافق وشي. پر هر پروګرام چې هوکړه کېږي، هغه پروګرام باید عملي شي. ټاکنې دوه ځله ځنډول شوې دي، نو که هوکړه و نه شي، ټاکنې دې ترسره شي)).

زلمی خلیلزاد همدا راز وایي، له وسله والو طالبانو سره په څلورو مسایلو خبرې شوې، چې هیله لري راتلونکې پړاو مذاکراتو کې پرې توافق وشي. د ده په خبره، طالبان تر بین الافغاني مذاکراتو وروسته اوربند غواړي، خو د متحده ایالاتو هیئت هڅه کوي، چې تر بین الافغاني مذاکراتو مخکې جنګ کم یا ختم شي. خلیلزاد ویلي: ((د اوربند په اړه طالبان وایي چې باید تر بین الافغاني خبرو وروسته وشي؛ خو موږ کوښښ کوو چې تر بین الافغاني مذاکراتو مخکې اوربند رامنځ ته شي او یا هم جګړه راکمه شي)).

د افغانستان د سولې مسئله په دې وروستیو کې نه یوازې په رسنیو، سیاسي څېرو، ګاونډیو هېوادونو بلکې د مدني بنسټونو ترمنځ همه په تاوده بحث بدله شوې ده. تېره ورځ هم ډېرو مدني بنسټونو د سولې په اړه غونډې او خبري کنفرانسونه لرل. د سولې کور په نامه یوه مدني حرکت وویل، په افغانستان کې روانه جګړه امریکا پیل کړې ده او باید دغه هېواد روانه جګړه ختمه کړي. دوی د امریکا پر نورو ملګرو او جګړه کې شریکو ملګرو هم غږ کړی، چې دلته د جګړې په پای ته رسولو کې هڅه وکړي.

بل پلو د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس محمدعمر داوودزي په یوه غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي، چې د ملي یووالي حکومت سولې ته ژمن دی، د مذاکراتو لپاره هېڅ راز شرط نه لري، خو د مصالحې لپاره بیا خپل شرایط لري. د ده په خبره، د سولې په اړه به د افغانانو ملي دریځ د مشورتي لویې جرګې په جوړېدو سره روښانه شي. هغه وویل، په دې جرګه کې به ټول اړخونه ګډون کوي او ان هیله لري چې طالب استازي هم په دغه ملي مشورتي لویه جرګه کې ګډون وکړي.

# سپینه ماهۍ: پر ایران د نوو بندیزونو د لګولو په اړه غور کوو

د سپینې ماڼۍ یوه جګپوړي چارواکي ویلي، واشنګټن پر ایران د نورو بندیزونو د لګولو په اړه غور کوي.

دغه چارواکي د نوم نه ښودو په شرط ویلي، متحده ایالتونه د ایران له اټومي موافقې د وتلو د کلیزې په درشل کې په پام کې لري، چې پر ایران نوي بندیزونه ولګوي.

دا په داسې حال کې ده، چې ولسمشر ټرمپ د تېر کال په مې میاشت کې له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي موافقې څخه د امریکا وتل اعلان کړل او پر دغه هېواد یې د انرژۍ او مالي سکټور په ګډون، په بېلابېلو برخو کې د بندیزونو د بیا لګولو امر وکړ.

دغه تړون متحده ایالتونو، برېټانیا، فرانسې، چین، جرمني او روسیې له ایران سره لاسلیک کړی و.

دغه امریکایي چارواکي ویلي، موږ غواړو بندیزونو ته دوام ورکړو او سوداګر باید په دې باور ولري، چې په اوس وخت کې له ایران سره تجارتي معامله ډېر ناسم فکر دی.

پر تهران د واشنګټن د نویو احتمالي بندیزونو د څرنګوالي په اړه دغه چارواکي نور جزیات نه دي ورکړي، خو دومره یې ویلي چې دغه نوي بندیزونه به په څو اونیو کې ولګول شي.

د ټرمپ ادارې پر تهران د هغو فعالیتونو په خاطر چې هغه یې ورانوونکي بللي، سخت فشارونه راوستي دي او تهران یې په منځني ختیځ کې د سخت دریځو ډلو په ملاتړ، د بالیسټیک توغوندیو او اټومي وسلو په ازمویلو او د سوریې د ولسمشر بشارالاسد په ملاتړ تورن کړی دی.

په ورته وخت کې تهران هم ویلي چې د امریکا بندیزونو په دغه هېواد کې سېلاب ځپلو سیمو ته د مرستو رسولو او ژغورنې پر هڅو ناوړه اغېز ځکه کړی، چې د دغه هېواد هلیکوپټرې له تخنیکي پلوه په بد وضعیت کې دي.

ایران په جنوبي سیمو کې د سختو بارانونو او سېلابونو له امله چې تر اوسه یې د مړو شمېر له ۴۵ کسانو اوښتی، اضطراري حالت اعلان کړی دی. د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف په ټوېټ کې لیکلي، چې د امریکا بندیزونو هغو سیمو ته چې وروستیو سېلابونو زیانمنې کړې دي، د ایران د سرې میاشتې ټولنې له خوا د مرستو رسولو هڅې له خنډ سره مخ کړې دي.


ظریف ویلي، د مرستندویو هلیکوپټرو په ګډون، پر تجهیزاتو بندیز لګول اقتصادي جګړه نه، بلکه اقتصادي ترورېزم دی.

## د کتـــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اووم څپرکی
### خپل چاپېریال اداره کړئ
ځان بري ته جوړول




غوره ووسئ او غوره ترلاسه کړئ. دا قانون درسره په هر څه کې، ان د سودا په اخیستو کې هم مرسته کوي. یوه ورځ مې د دې فکر د ګټې ثابتولو لپاره یوه روزنه کې ګډونوالو ته وویل، د داسې ځیرکې سپما کیسه راته وکړئ چې تاوان مو پکې کړی وي. دلته به درته د ځوابونو څو بېلګې راوړم:

- (یوه ورځ مې نابلده ځای کې جامې واخیستې، چنې مې ووهلې، بیه یې ټیټه شوه خو جامې چنداني نه وې خوښې.)
- (زما موټر خراب شوی و، یوې نوې مستري خاني راته وویل چې په (۲۵۰۰) روپۍ یې جوړوم، موټر یې جوړ کړ، خو یو څو ورځې وروسته بېرته خراب شو.)
- (زه د پیسو سپمولو لپاره یوه خېرن رستورانت ته د ډوډۍ خوړلو لپاره تلم، لوښي به یې غوړ او خیرن وو، کارکوونکي یې لټ وو، خدمتونه پکې نه وو ... بیا راته یوه ملګري وویل: راځه چې یو بل ځای ته لاړ شو، بل ځای ته چې لاړو ملګري مې فرمایش ورکړ، ما هم ورکړ، جالبه دا وه چې دلته ډوډۍ هم ښه وه، ځای هم ښه و، پاک هم و، خدمات یې هم ښه وو، خو پیسې یې تر هغو غوړو او خېرنو لوښو لږې ډېرې وې... دا راته ښه درس و.)

جوابونه ډېر وو، یوه د پیسو سپمولو په نیت یوه نوي او بې تجربې ډاکټر ته تللی و، خو دې ته یې نه کتل چې د ده مرض یې سم نه و تشخیص کړی. نورو د هغو لګښتونو کیسې کولې چې د کور ارزانه کرایه کولو، هوټل ته د ارزانه تللو او ارزانه توکو پېرلو لپاره یې کړي وو.

البته زیاتره خلک دا زړه خوري چې نوی نه شي غوره کېدای. حل یې اسانه دی. یعنې له اوسني حالته لږ هم نه شئ ښه کېدای؟ البته اوږد مهال کې لومړۍ درجه تر دویمې ارزانه پرېوځي. بله دا چې لږ وخورئ، ښه وخورئ. مثلاً یوه جوړه ښه بوټان تر درې جوړه خرابو بوټانو ښه دي.

خلک تاسې په لاشعوري توګه د کیفیت له مخې ارزوي، نو د کیفیت په ارزښت پوه شئ، ځکه ارزښت یې ډېر لوړ دی. ستاسې د فکر اپوټه، ښه شی تر خراب شي ډېر ارزانه پرېوځي ... یو متل دی چې (قیمته بې حکمته نه وي او ارزانه بې علته.)

چاپېریال د خپلې بریا لپاره جوړ کړئ

۱. د چاپېریال په اړه ځیرک ووسئ. لکه څنګه چې بدني پرهېز بدن جوړوي، ذهني پرهېز ذهن جوړوي.
۲. کاري چاپېریال ځان سره ملګری کړئ، د ځان پر ضد یې مه کوئ. ځپوونکي فکرونه، منفي او نهیلي کوونکي خلک مه پرېږدئ چې تاسې ته د ماتې فکر درکړي.
۳. تنګ نظري خلک مه پرېږدئ چې شاته مو ټېله کړي. بدنیته خلک ستاسې غورځېدو ته په تمه وي، د دوی دا ارمان مه پوره کوئ.
٤. له بریالیو خلکو مشورې واخلئ. ستاسې راتلونکی مهم دی. له ناکامو مشاورینو مشورې مه اخلئ.
٥. له چاپېریاله ذهني او فکري زهر وباسئ، غیبت مه کوئ، په خلکو وغږېږئ، خو مثبت وغږېږئ.
٦. هر څه ښه وټاکئ، که داسې و نه کړئ، زیان به وکړئ.

### اتم څپرکی
### خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ

تاسې فکر لوستی شئ؟ د نورو فکر لوستل اسانه دي، ستاسې به ورته پام نه وي، خو تاسې د نورو او نور ستاسې فکرونه لولي او دا کار هره ورځ کېږي.

دا کار څنګه کوو؟ موږ دا کار د ذهنیتونو او لیدلورو د ارزونې په مرسته کوو.

یوه انګلیسي سندره وایي د مینې اظهار وینا ته اړتیا نه لري. همداسې ده، چا سره د مینې، کرکې، رخې او نورو شیانو د اظهار لپاره ژبې ته اړتیا نشته. همدارنګه د ستړیا، لوږې او زړه تنګۍ لپاره هم وینا ته اړتیا نشته، خلک یو بل سره په چوپتیا کې غږېږي.

زموږ فکر و ذهنیت زموږ له چلنده ښکاري. دا زموږ د ذهن هنداره دي او زموږ فکر پکې ښکاري. تاسې د مېز شاته ناست انسان فکر لوستی شئ. د هغه حالات او حرکات چې وګورئ، خپله پوهېږئ چې د خپل کار په اړه څه احساس لري. تاسې د پلورونکو، زده کوونکو، ښځې او مېړه فکر لوستی شئ او لولئ یې.

لوی ممثلین اصلاً ممثلین نه دي، دوی نقش نه لوبوي، بلکې دوی خپل هویت پرېږدي او عملاً د هغه انسان فکر و احساس راخپلوي چې قالب ته یې ننوځي. اصلاً دوی مجبور دي چې داسې وکړي، ځکه که داسې و نه کړي مصنوعي ښکاري او له خپل ترلاسه کړي مقامه پرېوځي.

دا ذهنیتونه یوازې لیدل کېږي نه، بلکې اورېدل کېږي هم. که سکرتره درته وایي چې (سهار پخیر د فلاني صیب دفتر...) دا اصلاً د دفتر له معرفۍ ډېر کار کوي. سکرتر په شېږو کلیمو کې دا ویلای شي چې:

(تاسې ماته ګران یئ، په خبرو مو خوشالېږم، ارزښت راته لرئ او خپل کار مې هم خوښېږي.)

**دوام لري...**

# خبرې مه کوئ عمل وکړئ!

اکسوس کتابپلورنځی

(خبرې مه کوئ عمل وکړئ) کتاب تازه پښتو ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال په نړۍ کې مشهور ویناوال او د مدیریت د لارو چارو متخصص برایان ټریسي دی. د دغه کتاب پښتو ژباړه سولې وردګ کړې، چې همدا پښتو ښه یې ټولټال ۷٦ مخونه لري.


ټریسي لسګونه کتابونه لیکلي، چې له نیکه‌مرغه پښتو ته یې د لسو په شاوخوا کې ژباړل شوي دي. نوموړی په نړۍ کې د انګېزې اخیستو، پر ځان باور پیدا کولو او پلان جوړولو تر ټولو ښه لارښود پېژندل شوی دی.

ټریسي نه یوازې دا چې خلکو ته د کتابونو له لارې مشورې ورکوي، بلکې په زرهاوو کسانو ته په ژوندۍ بڼه هم په یادو برخو کې سیمینارونه‌ورکوي.

ټریسي تر انګېزې، باور او پلان وروسته پر عمل ټینګار کوي. هغه وایي، موږ هغه څه نه یو چې په اړه یې فکر کوو، بلکې هغه څه یو چې په عمل کې یې کوو. ټریسي وایي، هغه وړتیاوې او استعدادونه چې یو انسان یې لري، تر هغه ډېر او پیاوړي دي، چې انسان په یوه پېړۍ کې ترې کار اخلي. تاسې ټول همدا اوس کافي هوښ او وړتیا لرئ، چې د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره پرې اړین موضوعات زده کړئ. ټریسي وایي، د هغه څه لپاره چې غواړئ واوسئ، هېڅ راز محدودیت نشته، خو په دې شرط چې د همغه غوښتنې لپاره په ذهن کې شته ایډیا عملي کړئ.

ټریسي وایي، کلونه وړاندې مې له یو چا وپوښتل، ولې ځینې کسان د نورو په پرتله ډېر بریالي وي؟ د ډېرو خلکو په څېر زه هم له دغه ځوابه حیران شوم، خو ځواب یې ډېر اسانه دی. ستاسې بریالیتوب ستاسې د کړنو په اساس او د هغه په سرعت او قدرت پورې تړلی دی؛ نه د هغه څه په اساس چې وایئ او هیله یې لرئ او یا یې په اړه هیله مند یاستئ او یا د دې هوډ لرئ چې په راتلونکي کې به یې تر سره کړئ. ستاسې بریالیتوب په هغه کار پورې تړلی دی، چې همدا اوس یې سرته رسوئ.

نوموړی وایي، ستاسې کړنې ستاسې تګلوری ټاکي، ستاسې خبرې، هیلې او نیت مهم نه دي، یوازې ستاسې عمل مهم دی. ستاسې کړنې ګړۍ په ګړۍ، دقیقه په دقیقه تاسې او شاوخوا وګړو ته ښیي چې تاسې څوک یاستئ او په رښتیا اوسنی شخصیت او موقف مو د هغو انتخابونو پایله ده، کوم مو چې مخکې ټاکلي دي. نه شئ کولای چې تېر ته مو بدلون ورکړئ، خو راتلونکي ته مو بدلون ورکولای شئ او دا څه یوازې په عمل سره ثابتولی شئ.




ستاسې ۹۵ سلنه مثبت او منفي کارونه ستاسې د عادتونو پر اساس ترسره کېږي. د خپلې خوښې وړ راتلونکې جوړول؛ د نویو عادتونو روزل دي. مانا دا، هغه څه چې تاسې یې په ذهن کې لرئ، په عمل کې یې هم وښیئ.

په ټوله کې دغه کتاب درته وایي، نور د بهانو له جزیرې رابهر شئ! نور بهانې لټول بس دي او نور په دې جزیره کې ورځې مه تېروئ. د هغه څه لپاره لاس په کار شئ، چې زړه مو غواړي. عمل کول تر هغه څه اسانه دي، چې کوئ یې نه؛ خو سخت ترې ځورېږئ.

مینه وال کولای شي دغه کتاب په اکسوس او د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې په مناسب قیمت ترلاسه کړي.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | Key Words for Fluency pre-intermediate | George woolar | ۱۲۰؋ |
| ۲ | Key Words For Fluency Intermediate | | ۱۵۰؋ |
| ۳ | Key Words For Fluency Inter | | ۱٤۰؋ |
| ٤ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures | Patricia Ackert linda lee | ۱۵۰؋ |
| ٥ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤۰؋ |
| ٦ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰؋ |
| ۷ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱۵۰؋ |
| ۸ | select reading elementary | Linda lee | ۱۲۰؋ |
| ۹ | Select Readings Intermediate | | ۱۲۰؋ |
| ۱۰ | Select Readings Pre intermediate | | ۱۲۰؋ |
| ۱۱ | Select Readings Upper intermediate | | ۱۲۰؋ |
| ۱۲ | Essential 4000 English Words 1+CD | paul nation | ۱۳۰؋ |
| ۱۳ | Essential 4000 English Words 2+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۱٤ | Essential 4000 English Words 3+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | Essential 4000 English Words 4+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۱٦ | Essential 4000 English Words 5+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۱۷ | Essential 4000 English Words6+CD | | ۱۳۰؋ |
| ۱۸ | English Vocabulary in use elementary 3rd edition | Michael Mccarthy | ۱۰۰؋ |
| ۱۹ | ENGLISH VOCABULARY IN USE PRE-INTERMEDIATE AND INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰؋ |
| ۲۰ | ENGLISH VOCABULARY IN USE UPPER INTERMEDIATE 4TH | | ۱۸۰؋ |
| ۲۱ | ENGLISH VOCABULARY IN USE ADVANCED 3rd | | ۱۸۰؋ |
| ۲۲ | Vocabulary and Grammar for The TOEFL Test | Collins | ۱٤۰؋ |
| ۲۳ | Skills for the Toefl iBT test Listening and Speaking | | ۱٤۰؋ |
| ۲٤ | Skills For the Toefl iBT test Reading and Writing | | ۱٤۰؋ |
| ۲۵ | د شاتو مچیو روزنه | خوشدل معروف | ۱۰۰؋ |
| ۲٦ | زنبور درمانی | سید محمد ظاهر سیدی | ۲٤۰؋ |
| ۲۷ | د ښوون زیتون پروسس | سید رقیب شاه هاشمی | ۱۲۰؋ |
| ۲۸ | عمومی زراعت کرنپوهنه | محمد اجمل د عوتیار غفاری | ۱۷۰؋ |
| ۲۹ | د اسوېلو کاروان (شعري ټولګه) | روزی مبارزی محمد ملنګ | ۱۰۰؋ |
| ۳۰ | کانډي ټول خلک سره ورونه دي | امان الله حنفي ، مجنون رحیمزی | ۲۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ   اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٣٥ |
| € | ٨٥,٤٠ |
| Rp. | ٥٣٣ |
| ₹ | ١٠٨٥ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ٩٨,٧٠ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# د نویو مدیرانو لپاره گټورې مشورې

ژباړه: عطامحمد میاخیل

کله چې د یوه نوي مدیر په توگه دنده پیلوی، ښایي په پیل کې تضادونه رامنځته شي. دا تضادونه تر ډېره د دې په خاطر رامنځته کېږي، چې مدیر غواړي خپل اقتدار هغو کارمندانو ته چې هېڅکله یې له هغوی سره کار نه دی کړی او نه یې پېژني، ثابت کړي.

که چېرې غواړی ټیم مو پر تاسو باندې باور وکړي او احترام درته ولري، نو له هغوی سره باید یوه مسلکي اړیکه رامنځته کړی او د هغوی له اړتیاوو او لېوالتیا سره د یوه کارمند په توگه اشنا شی. کله چې په شرکت کې نوې دنده اخلی او یا له یوه نوي شرکت سره یوځای کېږی، لاندې څلور تگلارې کولای شي له تاسو سره ډېره مرسته وکړي، څو له خپل نوي ټیم سره غوره او شونې همکاري ولری:

۱ ـ د لنډو ناستو لپاره پروگرام جوړ کړئ

هڅه وکړئ چې خپل کارمندان وپېژنئ او د هغوی له کمزورو او پیاوړو ټکو او دغه راز د هغوی له موخو او لومړیتوبونو سره اشنا شئ. د یو په یو ناستو په مرسته د خپل ټیم له غړو سره اشنا شئ او له دې لارې کولای شی پوه شی، چې د هغوی د مدیریت کولو لپاره، تر ټولو غوره تگلاره کومه ده.

د High Ground شرکت مؤسس او عامل مدیر Vip Sandhir په دې اړه وایي: «له کارمندانو سره د پرله پسې ناستو په جوړولو سره، مدیران کولای شي دا ثابته کړي، چې د هغوی پرمختگ او پراختیا ته ارزښت ورکوي، دغه راز دا ناستې مدیرانو ته د بدلون او تحول فرصت ورکوي او له دې لارې کولای شي ډاډ ترلاسه کړي، چې ټول ټیم د یوې گډې موخې لپاره کار کوي».

۲ـ د فیډبک د ورکولو او اخیستلو په اړه د کارمندانو نظر واخلئ

فیډبکونه کارمندانو ته دا اجازه ورکوي، څو له ځان څخه د مدیر تمې او هغه کارونه چې په سمه توگه یې د ترسره کولو په حال کې دي او دغه راز هغه کارونه چې باید پرې تمرکز وکړي، په ښه توگه درک کړي. په داسې حال کې چې ښایي دا بهیر کارمندانو ته زیان ورسوي. د یوه مدیر په توگه تاسې کولای شی د خپل ټیم نظرونو ته په غوږ نیولو سره، شخړې را کمې کړی.

Vip Sandhir وایي: «د فیډبک اخیستل د کارمندانو د اړتیاوو پر بنسټ شخصي کړئ، د دغو بحثونو په اوږدو کې، مدیران باید دا مشخص کړي چې هر کارمند له کومې لارې د فیډبک له اخیستلو سره لېوالتیا لري، باید پر دې اساس خپل مدیریتي سبک تنظیم کړئ».

کله چې فیډبک ورکوئ، نو ډاډ ترلاسه کړئ چې مقابل لوری مو پوهېږي، چې تاسو د هغه په تر ټولو غوره لېوالتیاوو باندې هم له کاري پلوه او هم له شخصي پلوه پوهېږئ. دغه کار د دې سبب کېږي چې کارمندان پر چارو باندې لا ډېر پوه شي او هغوی هڅوي چې خپل فیډبکونه له نورو سره شریک کړي.

د Vip Sanhir په خبره، د کارمندانو لپاره دا فرصت را منځته کړئ چې د مدیرانو د کړنو په اړه رښتیني فیډبکونه ورکړي او له دې لارې مدیران کولای شي، د اړتیا په صورت کې اصلاحات را منځته کړي.

Vip Sandhir سپارښتنه کوي چې له شرکت څخه د کارمندانو د غوښتنو په اړه او دغه راز په کاري بهیر کې د ستونزو په اړه یې له هغوی څخه پوښتنه وکړئ.

Vip Sandhir زیاتوي: «د دې لپاره چې ډاډه شی چې کارمندان د خپلو کړنو او ستاسو د پرمختگونو په اړه د فیډبکونو په وړاندې کولو کې د ناظر په توگه د هوساینې احساس کوي، نو هڅه وکړئ چې د یوه روزونکي په څېر ورسره چلند وکړئ، نه د یوه ډېکتاتور په توگه».

۳ـ واضح خبرې وکړئ

واضح خبرې د نویو نظریو او همکارۍ د ټینگښت سبب گرځي، چې د هر ټیم لپاره حیاتي ارزښت لري. هر شخص باید داسې احساس وکړي چې مقام ته یې په نه پاملرنې سره، په شرکت کې ارزښت لري او خبرو ته یې غوږ نیول کېږي.


Vip Sandhir په دې اړه وایي: «د دې موضوع د رامنځته کولو په برخه کې، دا ډېر ستر او مهم گام دی چې نوی مدیر یوازې د څارنې مسوول نه دی، بلکې د ټیم د غړو له ودې او مسلکي پرمختگ څخه ننگه کوونکی او دفاع کوونکی دی».

۴ ـ شته خنډونه وسنجوئ او د حل لارې ورته پیدا کړئ

د یوه نوي مدیر په توگه ښایي د نیمگړتیاوو او شکایتونو په خاطر د ناهیلۍ احساس وکړئ، خو مهمه دا ده چې پر شته ستونزو باندې اعتراف وکړئ او د حل کولو لپاره یې له خپل ټیم سره همکاري وکړئ.

د Vip Sandhir په خبره، مدیران ځانونه په داسې شرایطو کې نه راگیروي، چې له جدي ستونزو سره لاس و گرېوان شي. سره له دې هم، که چېرې هغوی په یوه ټیم کې په ناڅاپي توگه له ستونزو سره مخ شي، په حقیقت کې ښایي دا یو امتیاز او غوره والی وي. نوي مدیران د نوې دندې په پیلولو سره، کولای شي د ستونزو په اړه په رښتینې توگه پوښتنې وکړي.

له خپلو همکارانو څخه د ملاتړ او لارښوونې له غوښتلو څخه وېره مه لرئ، تر هرڅه مخکې تاسو یو ټیم یاست.



# راپورونه: بهرنیو ځواکونو د کندهار – اروزگان پر لویه لاره په هوایي برید کې ۱۵ مسافر وژلي دي

د کندهار – اروزگان پر لویه لاره د هوایي برید له امله ۱۵ کسان وژل شوي دي.

د سیمې اوسېدونکي وایي، ټول وژل شوي کسان په یوه هوټل کې مېشت مسافر وو، خو امنیتي مسوولینو او بهرنیو ځواکونو بیا وژل شوي کسان وسله وال طالبان بللي دي.

دا هوایي برید وړمه شپه د کندهار – اروزگان پر لویه لارې د شاه ولیکوټ ولسوالۍ د سرخوبیط په سیمه کې پر یوه هوټل شوی، چې دغه سیمه د اروزگان مرکز ترینکوټ ته نږدې پرته ده.

د اروزگان د ولایتي روغتون مشر ډاکتر امین‌الله توخي پژواک ته ویلي، روغتون ته ۱۳ جسدونه ور وړل شوي چې نهه یې د گیزاب ولسوالۍ اوسېدونکي وو.

د توخي د معلوماتو له مخې، دغه کسان وړمه شپه سرخوبیط هوټل کې د بهرنیو ځواکونو په هوایي برید کې وژل شوي دي.

بلخوا د اروزگان د والي مرستیال عطاءالله فضلي ویلي، چې په یاد هوایي برید کې د طالبانو ترځنگ، ملکي وگړو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده.

د عبدالرزاق په نامه د وژل شویو کسانو د کورنۍ یوه غړي ویلي، په دې پېښه کې یې درې د کاکا زامن وژل شوي دي.

د نوموړي په خبره، دغه کسان چې ډېری یې د گیزاب ولسوالۍ اوسېدونکي وو، غوښتل یې ایران ته د مزدورۍ لپاره ولاړ شي، خو په لاره کې پرې شپه شوې وه او په سرخوبیط هوټل کې مېشت شوي وو.

په سوېل زون کې د ۲۰۵ قول اردو مطبوعاتي مسوول، تورن صادق عیسی پژواک ته ویلي چې وړمه شپه د کشفي معلوماتو له مخې، په شاه ولیکوټ کې هوایي برید شوی، چې په ترڅ کې یې ۱۵ وسله وال طالبان وژل شوي دي.

په کندهار کې د بهرنیو ځواکونو مطبوعاتي دفتر هم وژل شوي کسان وسله وال مخالفین یاد کړي، خو وسله والو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.



# اجرایه رییس: که د اوبو سرچینې مدیریت نه کړو، له ډېرو ستونزو سره به مخ شو

اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، که د اوبو د سرچینو د مدیریت لپاره اساسي کار ونه شي، افغانستان به په راتلونکي کې په دې برخه کې له ډېرو ستونزو سره مخ شي.

نوموړي د اوبو پنځم ملي کنفرانس ته په وینا کې ویلي: «موږ د اوبو تر ټولو ښې سرچینې لرو، خو که په دې مرحله کې د اوبو د مدیریت لپاره داسې اساسي کار ونه شي، چې د خلکو پر ژوند او د افغانانو پر وضعیت اوږدمهالې اغېزې ولري، موږ به راتلونکو نسلونو ته یو ناوړه میراث پرېږدو».

عبدالله همدارنگه ټینگار کړی، چې د اوبو د ښه مدیریت او سرچینو د پراختیا لپاره باید له نړیوالو تجربو گټه واخیستل شي او له گاونډیو هېوادونو سره هم د همکارۍ اړیکې رامنځته شي.

د اوبو د مدیریت خبره داسې مهال کېږي، چې دا مهال د افغانستان ډېری اوبه د بندونو د کموالي له امله، تر ډېره حده گاونډیو هېوادونو ته بهېږي.

که څه هم ولسمشر غني په بیا بیا ټینگار کړی، چې د اوبو د مهارولو لپاره به جدي گامونه واخیستل شي، خو د اوبو مدیریت لا هم په افغانستان کې له اساسي ستونزو څخه شمېرل کېږي.

د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر، انجنیر محمدگل خُلمي یادې ناستې ته په وینا کې ویلي، چې د اوبو د ښه مدیریت لپاره د لویو او وړو بندونو د جوړولو لپاره پراخ پلانونه لري.

نوموړي ویلي، په هېواد کې د بندونو د جوړولو لپاره پلانونه ترتیب شوي، چې ځینې د ودانېدو په حال کې دي او د ځینو مطالعه او سروې روانه ده.

نوموړي زیاته کړې: «په هېواد کې د اوبو د مهارولو لپاره مطالعات او د اوبو د سرچینو په برخه کې څېړنې بشپړې شوي او یوشمېر سرچینې د ډیزاین او یوشمېر نورې تر کار لاندې دي، له هغې ډلې کولای شو چې د سلما بند ٦١۴ میلیونه مترمکعب ظرفیت ته اشاره وکړو».

د چارواکو په خبره، په نویو جوړېدونکو بندونو کې شاه او عروس، دهنې دره، مچلغو، کمال خان، پاشدان او دهله شامل دي.



Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱٤مه | د ۲۰۱۹ د اپرېل دریېمه | دویم کال | ۳۵۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| | کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ▲ | ۲۳ | ۲۷ | ۳۳ | ۲۹ | ۳۷ | ۳۳ |
| ▼ | ۱۱ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱٤ | لمر ختل ۰۵:٤۰ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیګر ۰۳:۳۲ | ماښام ۰٦:۱۵ | ماخوستن ۰۷:٤۱


## نړۍ



# سپینه ماڼۍ: پر ایران د نوو بندیزونو د لګولو په اړه غور کوو

۳

## راپورونه: د ناټو غړي هېوادونه روانه اونۍ د روسيې پر وړاندې د راتلونکو اقدامو په اړه بحث کوي



د راپورونو له مخې، د ناټو غړي هېوادونه روانه اونۍ په واشنګټن کې د روسيې پر وړاندې د راتلونکو اقداماتو په اړه بحث کوي.

د ناټو د غړو هېوادونو د بهرنيو چارو وزيران د دغه تړون د جوړېدو د ۷۰مې کليزې د نمانځلو لپاره د اپرېل په څلورمه، په واشنګټن کې راټولېږي. تمه ده چې د دغو خبرو ډېره برخه له روسيې سره د ناټو پر اړيکو متمرکزه وي.


دا په داسې حال کې ده چې د ناټو سرمنشي ينس سټولټنبرګ په بروکسل کې خبريالانو ته د دې غونډې په اړه معلومات ورکړي دي.

نوموړي ويلي: «موږ پنجشنبه د ناټو او روسيې پر اړيکو خبرې کوو، روسيې د (اېس. اېس. سي ۸) ډوله توغونديو په پراختيا او ځای پر ځای کولو سره د (ای. اېن. اېف) يا د اټومي وسلو د کنټرول له تړونه سرغړونې ته دوام ورکوي. د دغو توغونديو تعقيب سخت دی او په دې ډول موږ د خونديتوب له کموالي سره مخامخ کېږو. روسيه دغه راز د دې تړون د مراعاتولو په برخه کې زموږ د غوښتنو پر وړاندې درېږي، وخت په تېرېدو دی، ځکه موږ د ناټو پر راتلونکو ګامونو خبرې کوو». سټولټنبرګ زياته کړې چې ناټو نه غواړي، چې له ځمکې څخه هوا ويشتونکي اټومي وسلې په اروپا کې ځای پر ځای کړي. د هغه په خبره، په دغو تدابيرو کې د سمندري ځواکونو او ساحلي ساتونکو روزنه، د بندرونو څارنه، تمرينات او د اطلاعاتو شريکول شامل دي.

دا په داسې حال کې ده چې د ناټو او روسيې اړيکې د اوکراين په ختيځ کې له بېلتون غوښتونکو سره د مسکو د مرستې او هم په ۲۰۱۴ ز کال کې د روسيې له خوا د اوکراين د کريميا سيمې له الحاق را وروسته ترينګلې شوې دي.

د اوکراين په جګړه کې چې له تېرو پنځو کلونو راهيسې پيل شوې، ۱۳ زره کسان وژل شوي دي.

## راپورونه: امریکا ترکیې ته د «F-35» جنګي جیټ الوتکو ورکړه ځنډولې ده



د امريکا دفاع وزارت ويلي، د ترکيې د هغه اقدام په ځواب کې چې غواړي له روسيې څخه د (S-400) توغونديو د پېرودلو پلان عملي کړي، دغه هېواد ته د (F-35) جنګي جيټ الوتکو ورکول ځنډوي.

د پنټاګون يوه وياند ويلي، که څه هم د دې مهمې مسئلې په اړه له انقرې سره خبرې روانې دي، خو اوسمهال ترکيې ته د (F-35) الوتکو ورکول ځنډول شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې واشنګټن له څو مياشتو را په دېخوا په پرله پسې ډول ترکيې ته خبرداری ورکړی و، چې له روسيې څخه د (S-400) دافع هوا توغونديو پېرودل، د دغو الوتکو معامله زيانمنوي، خو انقرې ويلي چې له خپلې پرېکړې نه په شا کېږي.

د ترکيې د بهرنيو چارو وزير مولود چاوش اوغلو د جمعې په ورځ ويلي، چې هېواد يې د روسي توغونديو د پېرودلو معاملې ته ژمن دی او اوسمهال د هغو د سپارلو د نېټې په اړه خبرې روانې دي.

بلخوا روسي رسنيو هم راپور ورکړی چې ترکيه غواړي د دوه نيم ميلياردو ډالرو په ارزښت د (S-400) توغونديو څلور يونټونه وپېري.

د يادونې ده چې ترکيې د امريکا د دغې پرېکړې په اړه څه نه دي ويلي.

## ناټو: حکومت افغانستان باید بخشی از مصالحه باشد



ینس ستولتنبرگ، منشی عمومی ناتو هشدار می‌دهد که بدون مصالحه، صلح پایدار در افغانستان برقرار نخواهد شد و حکومت افغانستان باید بخشی از آن باشد.

وی در این باره گفته است: «بدون مصالحهٔ افغانی، صلح پایدار در افغانستان بر قرار شده نمی‌تواند و روشن است که حکومت افغانستان باید بخشی از آن باشد».

او افزوده است: «ما از نزدیک با ایالات متحده امریکا کار می‌کنیم. پیام تمامی هم‌پیمانان ناتو و امریکا این است که ما باهم به افغانستان رفتیم و باهم دربارهٔ آیندهٔ حضور ما در آن جا تصمیم خواهیم گرفت، اما این تصمیم‌ها وابسته به آن چه که در اطراف میز گفت‌وگوها می‌گذرد، وابسته است».

او افزوده است که آیندهٔ حضور نیروهای ناتو در افغانستان وابسته به روند صلح با طالبان است.

این درحالی است که وزیران خارجه ناتو به روزهای چهارشنبه و پنج‌شنبه در واشنگتن، درکنار مسایل جهانی، اوضاع افغانستان را نیز، به بررسی می‌گیرند.

منشی عمومی ناتو در خطاب به طالبان می‌گوید که آنان در میدان‌های جنگ پیروز نخواهند شد.

او تصریح کرده است: «ما در واقع شمار آموزگاران ناتو را در افغانستان افزایش داده‌ایم، زیرا می‌دانیم که بهترین راه برای رسیدن به یک راه حل برخاسته از گفت‌وگوها این است، تا یک پیام به طالبان بدهیم که آنان در میدان جنگ پیروز شده نمی‌توانند. به همین علت ما نیروهای افغان را آموزش می‌دهیم و از آنان پشتیبانی می‌کنیم».


در همین حال رئیس‌جمهور غنی می‌گوید که برای اختلاف‌های سیاسی درکشور باید راه حل سیاسی پیدا شوند.

وی گفته است: «دیدگاه منسجم ملی ما است تا این جنگ تحمیل شده ۴۰ ساله را ختم کنیم و بتوانیم ارزش‌های را که همه این جامعه افغان و مسلمان بالایش باورمند است، در عمل پیاده کنیم».

او افزوده است که حکومت آمادهٔ گفت‌وگو با طالبان است، اما تاکنون طالبان به گفت‌وگو با نماینده‌گان حکومت تن، نداده‌اند.

## ژونـــد

## خُرفه څه ډول سابه او کوم مواد لري؟



خُرفه د خوندورو سبو په ډله کې راځي، چې له مغذي موادو څخه مالامال دي. دغه پاڼې لرونکي سبا چې په خام او پاخه دواړو ډولونو خوړل کېږي، په خپل ترکيب کې ۹۳ سلنه اوبه لري. خُرفه له ډېر پخوا راهيسې په سنتي طب کې ځانګړی ځای لري، چې هر سل ګرامه خُرفه لرترلږه ۲٦ سلنه وېټامين اې او بتا کاروتين، ۳۵ سلنه وېټامين سي، ۱۷سلنه مګنيزيم، ۱۵سلنه منګنيز، ۱۴ سلنه پوتاشيم، ۱۱ سلنه اوسپنه او اووه سلنه کلسيم لري. دغه راز په ډېره لږه کچه وېټامين بې يو، وېټامين بي دوه، وېټامين بي درې، مس او فاسفر هم لري. خُرفه په خپل ترکيب کې په زياته کچه انتي اکسيدان او نور ګټور مواد لري. انتي اکسيدان په بدن کې د سرطاني ناروغيو مخنيوی کوي. دغه سابه د پوتاشيمو په درلودو سره، د وينې فشار منظموي، د مغذي سکتې او د زړه د ناروغيو مخنيوی کوي. خو د هغو کسانو لپاره يې د زيات خوراک سپارښتنه نه کېږي، چې د پښتورګو ناروغي لري او يا يې هم په دوامداره توګه پښتورګي شګې جوړوي، ځکه دغه سابه په خپل ترکيب کې په زياته کچه اګزلات لري، چې دغه څه په پښتورګو کې د ډېرو له جوړېدو سره مرسته کوي.

## د ښایست او ډنګروالي لپاره د ځمکني توت ګټې



ځمکني توت د سرطان په مخنيوي، د مفاصلو د التهاب د پاکوالي او نقرس ناروغۍ د له منځه وړلو لپاره خورا ګټور دي. دا چې دغه مېوه په خپل ترکيب کې پل فنول او په زياته کچه انتي اکسيدان لري، نو په ټوله کې د ناروغيو پر وړاندې د بدن مقاومت لوړوي او د پوستکي لپاره ګټه رسوي. دغه مېوه زړه ته ورته جوړښت لري، پخه يې خوږه او خامه يې تروش خوند لري. د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې يې کرل رواج دي. په زياته کچه وېټامين سي، وېټامين کا، پوتاشيم او مګنيزيم لري. زړه، سترګې، پوستکی، هډوکي، وېښتان او غاښونه روغ ساتي. د زړښت، سرطان، شکرې، مغزي سکتې، لوړ فشار او معدې ناروغيو مخه نيسي. د هاضمي سيستم پياوړی کوي، د مفاصلو دردونه له منځه وړي او د اعصابو له پياوړتيا سره مرسته کوي. که په خوړلو کې يې اصراف وشي، جانبي عوارض رامنځ ته کوي. د بېلګې په توګه، نس ناستی، د معدې ناروغي، ژېړی او تبه پيدا کوي، چې په پښتورګو کې د ډېرو د پيدا کېدو لامل هم کېږي. د دې لپاره چې د بدن لپاره مو يې ګټه کړې وي او په ناروغيو يې اخته کړي نه وی، نو ښه ده چې په خوړلو کې يې له انډول څخه کار واخيستل شي.